# د میوکارډ د ST قطعي صعود لرونکي احتشاء د اپیدمیولوژي او خطري فکتورونو څېړنه



څېړنوال ډاکټر ضیاءالرحمن حقمل

د میوکارډ د ST قطعي صعود لرونکي احتشاء د اپیدمیولوژي او خطري فکتورونو څېړنه

څېړنوال ډاکټر ضیاءالرحمن حقمل

1399 هـ . ش

# Research on the Epidemiology and Risk Factors of ST-Segment Elevation Myocardial Infarction



Associate Professor Dr. Zia-UL-Rahman Haqmal

2021

ISBN 978-9936-661-18-9

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت
د علومو اکاډمي
د طبيعي –تخنيکي علومو معاونيت
طبي علومو مرکز
د معالجوي طب انستيتوت

# د میوکارډ د ST قطعې صعود لرونکې احتشاء د اپیدمیولوژي او خطري فکتورونو څېړنه

لیکوال: څېړنوال ډاکټر ضیاء الرحمن حقمل

1399 هـ. ش

**د کتاب ځانګړنې**

**د کتاب نوم:** د میوکارډ د ST قطعې صعود لرونکې احتشاء د اپیدمیولوژي او خطري فکتورونو څېړنه

**لیکوال:** څېړنوال ډاکټر ضیاء الرحمن حقمل

**ایډېټور:** څېړنوال ډاکټر میرویس حقمل

**مهتمم:** څېړنوال ډاکټر عبدالرحیم وردګ

**خپرندوی:** د افغانستان د علومو اکاډمي د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

**د چاپ کال:** 1399 هـ ل

**د چاپ شمېر:** 500 جلد

**د چاپ ځای:** الهام نبي زاده، کابل افغانستان

**ISBN:** 978 – 9936 – 661 – 18 – 9

**د کتاب د چاپ ټول حقوق د علومو اکاډمي سره خوندي دي**

بسم الله الرحمن الرحيم

# لیکلړ


| سرلیک | مخ |
|---|---|
| د لاربښود استاد نظر | ا |
| تقریظ | ج |
| تقریظ | د |
| تقریظ | و |
| سریزه | 1 |

**لومړی څپرکی**

**شالید**......................................... 5

| | |
|---|---|
| د موضوع شالید | 5 |
| ویلیم هاروی او د وینې دوران | 7 |
| د زړه د معایناتو تاریخچه | 9 |
| تکنالوژي او زړه | 14 |
| د زړه د انځوریزو معایناتو تاریخچه | 24 |
| د زړه د اکلیلي ناروغیو تاریخچه | 25 |
| د صدري خناق د درملنې تاریخچه | 28 |
| د حاد اکلیلي سندروم د درملنې تاریخچه | 30 |
| د اکلیلي شریانونو له ناروغیو څخه د وقایې تاریخچه | 32 |

**دوهم څپرکی**

**عمومیات**................................ 37

| | |
|---|---|
| د زړه اناتومي | 37 |
| د زړه فزیولوژي | 57 |
| د زړه هستولوژي | 76 |
| د زړه د تشخیصیه معایناتو لنډه توضیح | 80 |

| سرلیک | مخ |
|---|---|
| د زړه د ناروغیو ډلبندي | 104 |
| د زړه اسکیمیک ناروغی | 105 |
| د میوکارډ د ST قطعې صعود لرونکې احتشاء تعریف او اپیدمیولوژي | 115 |
| د میوکارډ د ST قطعې صعود لرونکې احتشاء لاملونه او خطري فکتورونه | 120 |
| د میوکارډ د ST قطعې صعود لرونکې احتشاء پتالوژي | 124 |
| د میوکارډ د ST قطعې صعود لرونکې احتشاء کلینیکي لوحه | 130 |
| د میوکارډ د ST قطعې صعود لرونکې احتشاء تشخیصیه پلټنې | 143 |
| د میوکارډ د ST قطعې صعود لرونکې احتشاء اختلاطات | 155 |
| د میوکارډ د ST قطعې صعود لرونکې احتشاء درملنه | 166 |
| د میوکارډ د ST قطعې صعود لرونکې احتشاء وقایه | 184 |
| **درییم څپرکی** | |
| **د میوکارډ د ST قطعې صعود لرونکې احتشاء د اپیدیمولوژي څېړنه.......** | 187 |
| د عمر له نظره د ناروغانو د شمېر او سلنې ټاکل | 187 |
| د جنس له نظره د ناروغانو د شمېر او سلنې ټاکل | 188 |
| د اوسیدلو د ځای له نظره د ناروغانو د شمېر او سلنې ټاکل | 194 |
| د موسم له نظره د ناروغانو شمېر او سلنه | 195 |
| د اقتصادي حالت له نظره د ناروغانو شمېر او سلنه | 196 |
| د دندې له نظره د ناروغانو د شمېر او سلنې ټاکل | 197 |
| **څلورم څپرکی** | |
| **د میوکارډ د ST قطعې صعود لرونکې احتشاء د خطري فکتورونو څېړنه..** | 199 |
| د تغییر خوړونکو خطري فکتورونو څېړنه | 199 |
| د تغییر نه خوړونکو خطري فکتورونو څېړنه | 233 |
| پنځم څپرکی | |
| د موضوع علمي او روغتیایي ارزښت | |
| علمي ارزښت | 241 |
| روغتیایي ارزښت | 244 |

| سرلیک | مخ |
|---|---|
| **پایلې** | 247 |
| **له نړیوالو څېړنو سره د دغې څېړنې پرتلنه** | 251 |
| **وړاندیزونه** | 254 |
| **مأخذونه** | 257 |
| **ضمایم** | 264 |

## د لارښود استاد نظر

د نړۍ په کچه د مړینې د عمده لاملونو څخه یو هم د زړه اسکیمیک ناروغۍ، په ځانګړې ډول د کرونري شریانونو حاد سندروم، جوړوي، چې هر کال په ټوله نړۍ کې په میلیونونو انسانان د همدې ناروغۍ له امله خپل ژوند له لاسه ورکوي.

هغه اپیدمیولوژیک بدلونونه چې د صنعت او اقتصاد د پرمختګ له امله په نړۍ کې رامنځته شوي دي، د بېلګې په ډول د انسانانو د عمر د اوسط لوړېدل، د آرامه ژوند خوښول، د سګرټو زیات استعمالول، د بدن د وزن زیاتېدل او داسې نورو، که له یوې خوا یې د انسانانو ژوند آسانه کړی، خو له بلې خوا یې د یو شمېر ناروغیو پېښې زیاتې کړې دي، چې یوه یې هم د زړه اسکیمیک ناروغۍ ده.

دغه علمي څېړنیزه رساله چې د میوکارډ د ST قطعې صعود لرونکې احتشاء د اپیدمیولوژي او خطري فکتورونو تر عنوان لاندې محترم څېړندوی ډاکټر ضیاءالرحمن حقمل زما تر لارښوونې لاندې بشپړه کړې ده، څېړنیزه برخه یې د کابل ښار په څلورو لویو روغتونونو (وزیر محمد اکبرخان، صدري ابن سینا، جمهوریت روغتون او امیري طبي کمپلکس ) کې تر سره کړې ده، چې ناروغان او د هغو اړوند اسناد یې په پروسپیکټیو او ریتروسپیکټیو بڼه څېړلي دي.

په ټولیزه توګه ډاکټر صاحب حقمل د ST-elevation myocardial infarction 496 ناروغان مطالعه کړي دي، چې د هغو له ډلې څخه 336 نارینه او 160 ښځینه و، چې بیا په همدې ناروغانو کې یې د همدې ناروغۍ اپیدمیولوژي او خطري فکتورونه څېړلي دي.

د دغې علمي څېړنیزې رسالې په لمړي څپرکي کې د موضوع شالید او په دوهم څپرکي کې د دې ناروغۍ علمي برخه چې له نویو او معتبرو طبي کتابونو او انترنیت څخه په استفاده لیکل شوی دی او دا ناروغۍ یې په هر اړخیز ډول څېړلې ده، په دریم څپرکي کې د دې ناروغۍ اپیدمیولوژي او په څلورم څپرکي کې د دې ناروغۍ خطري فکتورونه څېړل شوي دي، په پنځم څپرکي کې د همدې موضوع علمي او روغتیایي ارزښت ته پام شوی دی او بلآخره د څېړنې څخه لاسته راغلې پایلې او مناسب وړاندیزونه لیکل شوي دي.

زه دغه علمي-څېړنيزه رساله د څېړندوی ډاکټر حقمل لپاره یوه لویه لاسته راوړنه بولم او د څېړندوی علمي رتبې څخه د څېړنوال علمي رتبې ته د ترفیع لپاره یې کافي ګڼم او د ده دې مهمې رسالې چاپ او تکثیر د هیواد طبیبانو ته ډېر ګټور بولم.

په درنښت

څېړنوال ډاکتر احمدشاه عمر وردک

# تقریظ

رساله علمی-تحقیقی محترم څېړندوی دوکتور ضیاءالرحمن حقمل آمر دیپارتمنت داخله و عضو علمی مرکز علوم طب اکادمی علوم افغانستان را که تحت عنوان اپیدمیولوژی و Risk فکتورهای ST-segment elevation myocardial infarction تحریر گردیده مطالعه نمودم.

این کار تحقیقی بالای 496 واقعه ST-elevation myocardial infarction به شیوه ریتروسپیکتیو و پروسپیکتیو نزد مریضان داخل بستر شفاخانه های وزیر محمد اکبرخان، صدری ابن سینا، جمهوریت روغتون و امیری طبی کمپلکس صورت گرفته.

در این کار تحقیقی در ابتدا راجع به Myocardial infarction معلومات ارایه گردیده، سپس در مورد اپیدمیولوژی و Risk فکتورهای ST-elevation myocardial infarction از نظر سن، جنس، سکونت، فصل سال، وضع اقتصادی، وظیفه، فشار خون، Smoking، Risk فکتورهای Dyslipidemia، فشارهای روحی و تاریخچه فامیلی Ischemia، همه جانبه تحقیق صورت گرفته.

این رساله علمی تحقیقی در 182 صفحه تحریر گردیده، که حاوی اشکال، جداول و تابلوها می باشد، این رساله علمی تحقیقی به زبان بسیار روان پشتو با محتوی علمی تحریر گردیده، که خواننده گان به وجه احسن از آن استفاده نموده میتوانند.

در این کار تحقیقی از منابع جدید معتبر طبی و انترنیت که در ریفرنس این رساله علمی درج است استفاده گردیده، این رساله علمی تحقیقی حاوی خلاصه، مقدمه، هدف، پیشینه، نتایج، مناقشه و پیشنهادات می باشد،که با غنامندی این کار تحقیقی می افزاید.

این کار تحقیقی برای دوکتوران ستاژر و دوکتوران جوان خیلی مفید و آموزنده میباشد، بناءً اینجانب این کار تحقیقی محترم داکتر صاحب حقمل را به حیث اثر علمی جهت ترفیع علمی شان از رتبه علمی څېړندوی به رتبه څېړنوال کافی دانسته، موفقیت های شان را از خداوند متعال خواهانم.

بااحترام

پوهاند دوکتور حیات الله حیات

# تقریظ

اثر تحقیقی علمی محترم څېړندوی ضیاءالرحمن حقمل آمر دیپارتمنت داخله و عضو علمی مرکز علوم طب اکادمی علوم افغانستان را که تحت عنوان اپیدیمیولوژی و فکتورهای ریسک ST elevated myocardial infarction تحریر گردیده است، مطالعه نمودم.

این اثر تحقیقی علمی که به شیوه ریتروسپیکتیو و پروسپیکتیو نزد 496 واقعه بستر در شفاخانه های دولتی و خصوصی شهر کابل( شفاخانه صدری ابن سینا، جمهوریت، وزیر محمد اکبرخان و امیری طبی کامپلکس ) صورت گرفته است، که در برگیرنده خلاصه، مقدمه، هدف، پیشینه، معلومات عمومی در مورد مرض و فکتورهای خطر، روش کار، ارزیابی و تحلیل نتایج به دست آمده، نتیجه گیری و پیشنهادات میباشد که اثر را بیشتر غنی ساخته است.

در شروع اثر، اندیکاتورهای اپیدیمیولوژیک، فکتورهای خطر ST-elevated infarction myocardial از نظر جنس، سن، سکونت، شغل، حالت اجتماعی اقتصادی، فصل سال و علاوتاً دود کردن سگریت، فشار خون بلند، مرض شکر، Dyslipidemia، فشارهای روحی و تاریخچه فامیلی Ischemia همه جانبه تحلیل و ارزیابی گردیده است، نتایج تحلیل و ارزیابی مذکور در جداول، اشکال و دیاگرام ها بطرز خوب ارایه گردیده است.

در ضمن دریافتهای تحقیقی خویش را به لیتراتور مقایسه نموده و در صورت دریافت تفاوتها با لیتراتور، دلایل آن را بصورت علمی و منطقی ارایه و تحریر نموده است.

این اثر علمی در 180 صفحه به زبان بسیار روان پشتو با مفهوم و محتوی علمی آن طوری تحریر گردیده است، که تمام روشهای نگرش یک اثر تحقیقی علمی بطور کل رعایت نموده است و خواننده گان به وجه احسن از آن استفاده بعمل آورده میتواند.

در این اثر تحقیقی علمی از منابع جدید و معتبر طبی، سایتهای انترنیتی که در ریفرنس درج است، استفاده بعمل آورده است، که مطالعه آن برای دوکتوران ستاژیر، دوکتوران جوان و متخصص بسیار مفید و آموزنده میباشد. همچنان دوکتوران جوان را که دوسیه های مریضان را تحریر و خانه پری می نماید، به اشتباهات شان متوجه ساخته و در مورد وظیفه ترینرها است که در اصلاح این نقیصه اسناد طبی بپردازند.

اینجانب اثر تحقیقی علمی محترم دکتور صاحب حقمل را به حیث یک اثر تحقیقی علمی جهت ترفیع شان از رتبه علمی څېړندوی به رتبه علمی څېړنوال کافی دانسته و موفقیت های بیشتر را برای موصوف از بارگاه خداوند متعال خواهانم.

بااحترام

پوهاند دکتور عبدالحنان بری

استاد پوهنتون علوم طبی کابل

## تقریظ

د محترم څېړندوی ډاکټر ضیاءالرحمن حقمل علمي څېړنیزه رساله مې چې د ((د میوکارد د ST قطعې صعود لرونکې احتشاء د اپیډمیولوژي او خطري فکتورنو څېړنه )) تر عنوان لاندې لیکل شوې ده، له سره تر پایه ولوسته او په اړه یې خپل نظر په لاندې ډول څرګندوم.

د حاد اکلیلي سندروم (ACS) ST-elevated myocardial infarction (STEMI) تر ټولو شدیده او وژونکې برخه ده چې په امریکا متحده ایالاتو کې یې د کال شا او خوا یو نیم میلیون پېښې رامنځته کېږي، که څه هم له 1970 م .کال څخه را په دېخوا د اسکیمیکو ناروغیو په تداوی کې ډېر زیات پرمختګ راغلی دی، خو د میوکارد د حادې احتشاء د ناروغانو مړینه لا هم هر کال ډېره لوړه ده.

څومره چې هېوادونه صنعتي کېږي، هماغومره د لوړ فشار، شکر ناروغی، د اتیروسکلیروتیکو ناروغیو او چاغوالي پېښې لوړېږي، چې دا ټول فکټورونه په خپل وار د زړه د اسکیمیکو ناروغیو او په خاصه توګه د STEMI سبب کېږي، د STEMI زیاتره ناروغان که په اول نیم ساعت کې یو مجهز طبي مرکز ته ونه رسېږي، نو د مړینې احتمال یې ډېر لوړ دی.

د ښاغلي څېړندوی ډاکټر ضیاءالرحمن علمي – څېړنیزه رساله چې په پنځو څپرکو او شا او خوا 190 (A4) کې بشپړ شوې، پر ډېره مهمه موضوع لیکل شوې ده؛ د څېړنې له اصولو سره سمه په منطقي ډول بشپړ شوې ده؛ پر دې مهمه رساله د څېړونکي لارښود استاد مثبت نظر لیکلی او له ډېرو ښېګڼو یې برخمنه بللې ده. د رسالې لومړي دوه څپرکي د ناروغی د شالید او د دې ناروغی په اړه د کره طبي لیټراتوررونو له مخې علمي بحث کوي، په دې دوه څپرکو کې د STEMI په اړه ټولې هغه مهمې خبرې له معتبرو سرچینو څخه راټولې شوې دي چې د یوه محصل، یوه ډاکټر، یوه متخصص او حتی د یوه کارډیولوجیسټ لپاره پرې پوهېدل اړین دي. په دریم څپرکي کې د STEMI اپیډمیولوژي څېړل شوې؛ په څلورم څپرکي کې د خطري فکتورونو په اړه د څېړنې له اصولو سره سم بحث شوی؛ په پنځم څپرکي کې څېړونکي هڅه کړې چې له خپلې څېړنې څخه لاسته راغلې پایلې په منطقي ډول تحلیل کړي او بیا د همدې پایلو په نظر کې نیولو سره مناسب وړاندیزونه وکړي.

زما لپاره د دې څېړنيزې رسالې علمي او څېړنيزې دواړه برخې په زړه پورې او مهمې دي، په علمي برخه کې يې د ناروغۍ په اړه هر اړخيز بحث او په څېړنيزه برخه کې د څېړونکي منطقي پايلې په دې دلالت کوي چې محترم څېړندوی ډاکتر ضياءالرحمن حقمل د طبی علومو په څېړنيزه برخه کې پوره لاس لري او د لا ډېرو مهمو کارونو هيله ترې کېدای شي.

د دې رسالې ژبه ساده ده او څېړونکی توانيدلی چې پېچلې تخنيکي او علمي مسايل په آسانه ژبه د لوستونکو ذهن ته ورسوي. زه دغه رساله (د ميوکارد د ST قطعې صعود لرونکې احتشاء د اپيډميولوژي او خطري فکتورونو څېړنه ) د څېړونکي بريالۍ هڅه ګڼم او له څېړندوی علمي رتبې څخه د څېړنوال علمي رتبې ته د ترفيع لپاره يې کافي او حتی لوړه بولم .د افغانستان د علومو اکاډمۍ له محترم رياست څخه هيله کوم چې دا مهمه څېړنيزه او علمي رساله ژر تر ژره خپره کړي چې د طبي علومو او په خاصه توګه د زړه د ناروغيو متخصص ډاکتران ترې په خپله مسلکي برخه کې ګټه واخلي.

په درنښت

پوهاند ډاکتر عبدالواحد وثيق

د کندهار پوهنتون د طب پوهنځي د داخله څانګې مشر

# سریزه

ST-elevated myocardial infarction ناروغۍ یوه بېړنۍ طبي پېښه ده، چې د یوه یا څو Epicardial اکلیلي شریانونو د حاد او بشپړ بندښت له امله پېښېږي، د اکلیلي شریانونو دغه بندښت ډېر ځلې د اتیروسکلیروتیک پلاک (Atherosclerotic plaque) د څیرې کېدلو او په تعقیب یې د ترومبوز د جوړېدلو له امله وي، یا په بل عبارت STEMI د حاد اکلیلي سندروم د درې ګونو نوعو څخه تر ټولو خطرناکه او بدو پایلو لرونکې نوعه ده، چې د مایوکارډ په حادې او شدیدې (د مایوکارډ د ټول دیوال له یوې خوا څخه تر بلې خوا پورې یا Transmural) اسکیمیا سره توصیف کېږي او د حاد اکلیلي سندروم د نورو نوعو په پرتله په نسبي ډول د مایوکارډ زیاته برخه اغېزمنه کوي او همېشه د مایوکارډ د یوې برخې د وینې د جریان د بشپړ پرېکېدنې له امله رامنځته کېږي، یا هم ویلی شو چې STEMI یو کلېنیکي سندروم دی، چې د مایوکارډ د ځانګړو اسکیمیک اعراضو سره یوځای په الکتروکاردیوګرافي کې د ST قطعه خط وصفي او معند لوړېدلو (پورته کېدل) په تعقیب د مایوکارډ د نکروز څخه آزادو شویو بایومارکرونو سره مل وي.

په لویدیځه نړۍ کې د زړه اسکیمیکي ناروغۍ د مړینې او معیوبیت عمده ترین لامل ګڼل کېږي او نړیواله اپیډیمي یې جوړه کړې ده.

په 2008 ز. کال کې د یوه تخمین له مخې، په نړیواله کچه د ټولو مړینو 12.7٪ د اسکیمیکي ناروغیو له امله رامنځته شوې وې، چې 80٪ یې په کم عاید لرونکو هېوادونو کې پېښې شوې وې او په پرمختللو هېوادونو کې یې اندازه مخ په کمېدو ده.

په اټکلي ډول هر کال 1100000 امریکایان د کرونر په حاد سندروم اخته کېږي، چې د دوی له ډلې څخه دریمه برخه د ST-segment elevation myocardial infarction ناروغان دي.

د امریکا په متحده ایالاتو کې په تیرو دوه لسیزو کې د زړه د حادې احتشاء پېښې کمې شوې دي، په دې ډول چې په 1975 ز. کال کې په هرو 100000 کسانو کې 244 کسان او په 2006 ز. کال کې په هرو 100000 کسانو کې 162 کسان د زړه په حادې احتشاء اخته شوي وو؛ د روغتون په د ننه مړینه د 1975 ز. کال د 18٪ څخه په 2006 ز. کال کې 10٪ ته راښکته شوې ده او اوس مهال یې د مړینې کچه نوره هم تر 6٪ راښکته شوې ده؛ د حادې قلبي احتشاء څخه د رامنځته شویو مړینو له نیمایي څخه زیاتې مخکې له دې چې ناروغ روغتون ته ورسېږي رامنځته کېږي.

له حادې قلبي احتشاء څخه وروسته د یو کال په ترڅ کې د مړینې کچه 15٪ ته رسېږي، خو په هغو کسانو کې چې عمر یې له 75 کلونو څخه زیات وي د یو کال په ترڅ کې مړینه 60٪ ته رسېږي. سره له دې پرمختګونو، حاده قلبي احتشاء د عامو خلکو تر ټولو لویه روغتیایي ستونزه جوړوي او داسې تخمین کېږي چې د همدې ناروغۍ له امله یوازې په امریکا کې هر کال 165.4 میلیارده ډالره مصرفېږي.

د حاد اکلیلي سندروم د زیاترو پېښو مسؤلیت په ابتدایي ډول د اتېروسکلېروزس (Atherosclerosis) په غاړه ده؛ په اټکلي ډول د حادې قلبي احتشاء 90٪ پېښې په اتېروسکلېروزس اخته اکلیلي شریان کې په آني ډول د ترومبوس د جوړېدلو او د همدې ترومبوز په واسطه د اتیروسکلیروتیک اکلیلي شریان د بندېدلو له امله رامنځته کېږي؛ د نورو لاملونو په پرتله د Plaque څیرې کېدل او چاودېدل د اکلیلي رګونو د ترومبوز لپاره تر ټولو زیات زمینه برابرونکی علت ګڼل کېږي، د پلاک د څیرې کېدلو یا چاودېدلو څخه وروسته دمویه صفیحات فعال او سره ټولېږي، د وینې د لخته کېدلو لار فعالېږي او د اوعیو د تقبض رامنځته کېدلو له امله اکلیلي شریان کې ترومبوز او بندښت رامنځته کېږي.

د Atherosclerosis لپاره خطري فکتورونه په دوه ډلو، د تغییر وړ او نه تغییرېدونکو وېشل کېږي؛ د تغییر وړ خطري فکتورونه هغه خطري فکتورونه دي چې ناروغ او ډاکټر کولی شي د هغو د خطر د اندازې د کمولو لپاره لاربښوونه او اقدام وکړي او نه تغییرېدونکي خطري فکتورونه هغه خطري فکتورونه دي چې بدلون راوستل په کې امکان نه لري.

د اتیروسکلېروزس لپاره نه تغییرېدونکي خطري فکتورونه له، عمر، جنس او د زړه د اکلیلي ناروغیو مخکې له وخته رامنځته کېدلو کورنۍ تاریخچې څخه عبارت دي.

د اتېروسکلېروزس لپاره د تغییر وړ خطري فکتورونه له، سګرټ څکولو او یا هم د تمباکو د نورو انواعو کاروونه، د وینې د کلسترول او ترای ګلیسرایډ د سویې لوړوالی، Dyslipidemia، د شکرې ناروغی، د وینې لوړ فشار، چاغي په ځانګړي ډول د خېټې چاغوالی، روحي ټولنیز فشارونه، د آرامه ژوند کولو عادتونه او د تمریناتو کموالی او د میوې او سبزیو کم مصرف څخه عبارت دي.

دغه علمي څېړنیزه پروژه چې د افغانستان د علومو اکاډمي د طبي علومو د مرکز له خوا ماته د میوکارډ د ST قطعې صعود لرونکې احتشاء د اپیدمیولوژي او خطري فکتورنو د څېړنې تر عنوان لاندې د څېړندوی عملي رتبې څخه، څېړنوال علمي رتبې ته د ترفیع لپاره د څېړنوال ډاکټر احمدشاه عمر وردک تر لارښوونې لاندې راکړی شوې وه، په پنځو څپرکو کې لیکل شوې ده، په لمړي څپرکي کې د موضوع شالید، په دوهم څپرکي کې د نویو او عصري طبي سرچینو څخه په ګټه اخیستنه د همدې ناروغۍ علمي برخه، په دریېم څپرکي کې د همدې ناروغۍ اپیدمیولوژیکي څېړنه او په څلورم څپرکي کې د همدې ناروغۍ د خطري فکتورونو څېړنه او په پنځم څپرکي کې د موضوع علمي او روغتیایي ارزښت او بیا د رسالې په وروستیو کې د څېړنې څخه لاسته راغلې پایلې او وړاندیزونه او سرچینې ځای په ځای شوې دي.

د دغې رسالې څېړنیزه برخه د کابل ښار په څلورو لویو روغتونونو(صدري ابن سینا روغتون، د جمهوریت ملي اختصاصي روغتون، د وزیر محمد اکبرخان روغتون او د امیري طبي کمپلکس) کې تر سره شوې ده، په مجموعي ډول د STEMI 496 ناروغان په دې څېړنه کې شامل دي، څېړنه په توصیفي تحلیلي میتود ترسره شوې، چې معلومات په Prospective او Retrospective ډول له ناروغانو او د هغو له دوسیو څخه ترلاسه شوي دي.

د څېړنې په جریان کې کوښښ شوی دی چې زموږ په هېواد کې د دې ناروغۍ د اپیدمیولوژي او خطري فکتورونو په برخه کې هر اړخیز معلومات تر لاسه او د مخنیوي لپاره یې اړین وړاندیزونه وشي.

په آخر کې د خپل لارښود استاد، د طبي علومو د مرکز د محترم ریاست، د علومو اکاډمي د رهبریت، د عامې روغتیا وزارت او د امیري طبي کمپلکس د رئیس او غړو څخه مننه کوم، چې د څېړنې لپاره د آسانتیا په برابرولو کې یې هیڅ راز مرسته راڅخه نه ده سپمولې.